د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن ( د سعیدالرحمن لیکنه)


۱۰ فبروری ۲۰۱۷

## خوارځواکي د زيارکښانو ماشومان ګواښي

يرغلګران او ارتجاعي ځواکونه د زيارکښانو دښمنان دي. يرغلګران د ځايي ارتجاعي او مستبدو ځواکونو په ملتيا او مرسته غواړي چې بيوزله هيوادونه ولوټي او ولسونه يې وزبيښي. دا وخت د افغانستان تر څنګ، د سوريې، عراق، ليبيا، يمن، جنوبي سودان، نايجيريه او نورو هيوادونو ولسونه لوټي او ځپي. په دې هيوادونو کې ارتجاعي ځواکونو د يرغلګرانو سره لاس يوځای کړی او زيارکښان يې د ناورين سره مخامخ کړي دي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (يونسيف) د ماشومانو په اړه په وروستي راپور کې ويلي دي چې دا وخت په ټوله نړۍ کې اوه نيم ميليونه ماشومان د سختې خوارځواکۍ سره مخامخ دي. د دې راپور پر بنسټ نژدې ۴۸ ميليونه ماشومان په داسې سيمو کې ژوند کوي چې په کې جګړه روانه ده او يا کړکيچني سيمې دي. د ساري په توګه په يمن کې په هر ۱۰۰۰ ماشومانو کې ۶۳ تنه يې د پنځه کلنۍ مخکې مري.

افغانستان هم د نورو هيوادونو په شان د لوټمارو ښکيلاکګرانو لخوا تر تيري لاندې راغلی او ارتجاعي ځواکونه د امريکا او ناټو په مټ دلته واک چلوي او زيارکښان د نيستۍ کندې ته غورځوي. په زيارکښانو کې ماشومان او ميرمنې تر ټولو زياته قرباني ورکوي. په افغانستان کې ماشومان هم د خوارځواکۍ سره مخامخ دي چې د اوسنۍ ښکيلاکي او ارتجاعي جګړې يوه بدمرغه پايله ده.

نړيوال امپرياليزم چې ځينې مدني غلامان او رسنۍ يې «نړيوالې ټولنه» بولي، د زيارکښانو اصلي دښمنان دي. دوی د خپلو ګټو لپاره زيارکښان زبيښي او حتی غذايي او خوراکي مواد نابودي څو بيې يې راټيټې نشي او د دوی ګټې خوندي پاتې شي. سرمايه داره ټولنه چې له جګړې پرته نشي کولای ثروت او شتمنۍ تر لاسه کړي، ټل هڅه کوي چې د جګړې اور بل او روښانه وساتي څو هيوادونه لوټ کړای شي. که چيرې سرمايه داران پر نړۍ واکمن نه وي، نه به ښکيلاک او تجاوز او تيری وي او نه به هم لوټ او تالان او چور و چپاول او نه هم بيوزلي، نيستي، فقر او خوارځواکي.

خوارځواکي يوه ناوړه پديده ده چې څرنګه چې وويل شول د ستمګرانو د ستم او چپاولګرۍ له امله رامنځته کيږي او تر هغه چې ستم او ستمګري وي، د ماشومانو خوارځواکي به هم وي، ځکه چې ستمګران او تيري کوونکي چې د لوټمارو طبقو ګټې خوندي کوي د ولسونو د لوټلو او بيوزله کولو له لارې کولای شي شتمنۍ تر لاسه کړي. همدا هم دی چې همدا اوس اته شتمن کسان په نړۍ کې د نيمايي وګړو په اندازه شتمنۍ لري.

خوارځواکي د بیوزلی له امله رامنځته کیږي. زیارکښان تر هغه چې بیوزله وي، د نورو بلاګانو تر څنګ به یې ماشومان د خوارځواکه له امله هم رنځیږي. د زیارکښانو ماشومان هغه وخت د خوارځواکۍ په ګډون د بیلابیلو بلاګانو څخه نجات موندلی شي چې د هغه لوټمارانو په ضد په یووالي او پیوستون مبارزه وکړي چې لامل کیږي دوی په نیستۍ کې ژوند وکړي، ماشومان یې خوارځواکي وګواښي او له هوساینه پرته په کړیدلی او رنځمن ژوند ولري.